
د امیر اهلسنت تیر کال په 1444ھ مطابق کال 2022 د لوئي
یولسم شریف په موقع باندې د شوي بیان لیکلي ګلدسته په نوم د

# واه څومره ښکلې شان دے د غوثِ اعظم

## (د غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د 8 کراماتو سره)

پښتو



- په خوب کښې راغلے او د پریشانۍ حل ئې اوښودلو
- په غنمو کښې برکت راغلے
- د دین او د دنیا د بربادۍ سبب
- د 100 عالمانو پوښتنې


پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# واه څومره ښکلے شان دے د غوثِ اعظم [1]

## د غوثِ اعظم د 8 کراماتو سره

دُعائے عطّار: یا رَبِّ مصطفٰے! څوک چې دا رساله"واه څومره ښکلے شان دے د غوثِ اعظم، د غوثِ اعظم د 8 کراماتو سره" اولولي یا واوري، هغه د بدې عقیدې او بدې خاتمے نه بچ کړې او هغه بے حسابه اوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت شیخ حُسین بن احمد کَوَّاز بِساطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د الله پاک نه دا سوال اوکړو چې (یا الله پاکه!) زه په خوب کښې ابُو صالِح مُؤذِّن رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیدل

---

[1]... امیرِ اهلِ سنت دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه په11ربیع الاخر1444 هجرئ مطابق 6 نومبر کال 2022 د لوئے دولسم شریف په شپه په عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه (کراچۍ) کښې د مَدَنی مذاکرے نه مخکښې بیان اوفرمائیلو په کوم کښې چې د ټول ملک نه تشریف راوړونکو د جامعاتُ المَدینه په سوونو استاذانو صاحبانو هم شرکت اوکړو د دې سره سره په دغه یولسو شپو کښې د غوثِ پاک مختلف کرامات هم بیان شول، اَلحمدُ لِلّٰہِ الکریم! د شعبه هفته وار رساله مطالعه له خوا د امیر اهلسنت دا بیان او د غوث اعظم کرامات په لیکلي صورت کښې وړاندې کولے شي.

غوارم. (زما دعا قبوله شوه او) ما هغوئي په خوب کښې په ښه حالت کښې اوليدلو نو تپوس مې ترې اوکړو: اے ابُو صالِح! تاسو څنګه ئې؟ اوئې فرمائيل: اے ابُو الحسن! که د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذات مبارک باندې مې ډير دُرُودِ پاک نه وے لوستلے نو زه به هلاک (يعني برباد) شوے وے. (سعادت الدارين، ص136)

| | | |
|---|---|---|
| ذاتِ والا پہ بار بار دُرود | | بار بار اور بے شمار دُرود |
| بیٹھتے اُٹھتے جاگتے سوتے | | ہو الٰہی مرا شِعار دُرود |

(ذوقِ نعت، ص123،124)

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

شاہِ بطحا کا ماہ پارہ ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

سیِّدہ فاطمہ کا پیارا ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

یہ تو سب اولیا کا افسر ہے، ابنِ زہرا ہے ابنِ حیدر ہے

اور حسنین کا دُلارا ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

غوثِ اعظم ہیں شاہِ جیلانی، پیرِ لاثانی، قُطبِ رَبّانی

اُن کے عُشّاق نے پکارا ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

شَہرِ بغداد مجھ کو ہے پیارا، خوب دلکش وہاں کا نَظّارہ

میرا مرشِد جو جلوہ آرا ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

ہم کو "گیارہ" کا ہے عدد پیارا، ان کی تاریخِ عُرس ہے گیارہ

یوں عدد ہم کو پیارا گیارہ ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

(وسائلِ بخشش. ص577، 579)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په ایمان باندې د مرګ زیرے (واقعه)

حضرت شیخ عبدُ الحق محدثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "اخبار الاخیار" کښې لیکي: یو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب کښې د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زیارت اوکړو نو عرض ئې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دُعا اوکړئ چې ما له په قرآنِ کریم او ستاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنت باندې مرګ راشي، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: هم داسې به کیږي او ولې به نه کیږي چې ستاسو شیخ، شیخ عبد القادر دے، هغه بزرګ فرمائي: ما خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دري ځله دا درخواست اوکړو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (هر ځل) هم دغه ارشاد اوفرمائیلو چې هم داسې به کیږي او ولې به نه کیږي چې ستاسو شیخ، شیخ عبد القادر دے.(اخبار الاخیار. ص152اردو)

سُبْحٰنَ اللّٰه! د غوثِ پاک محبت او د هغوئي په سلسله کښې داخلیدل، د غوثِ پاک مُرید جوړیدل څومره فضیلت لري .

مِری موت بھی آئے توبہ پہ مُرشِد    ہوں میں بھی مرید آپ کا غوثِ اعظم

کرم آپ کا گر ہوا تو یقیناً
نہ ہوگا بُرا خاتِمہ غوثِ اعظم

(وسائلِ بخشش، ص553)

سلطانِ ولایت غوثِ پاک
ولیوں پہ حکومت غوثِ پاک
شہبازِ خطابت غوثِ پاک
فانوسِ ہدایت غوثِ پاک
اللّٰہ کی رحمت غوثِ پاک
ہیں باعثِ برکت غوثِ پاک

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! زمونږ د خوږ پیر و مرشد، د بغداد د شهنشاه حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اوچت شان دے او د هغوئي په وسیله د هغوئي د مریدانو او محبین (یعني محبت کوونکو) ته هم برکتونه نصیب کیږي او ولي به نه وي چې د آقا په فضیلت سره په غلام کښې هم خوبیانې راځي. الله پاک دې زمونږه تر مرګه پورې د غوثِ پاک په غلامئ باندې استقامت نصیب کړي او د قیامت په ورځ دې هم د غوثِ پاک په غلامئ کښې راپاڅوي. خلیفهٔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ، مدّاحُ الحبیب مولانا جمیل الرحمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکي:

ندا دے گا مُنادی حشر میں یوں قادریوں کو
کدھر ہیں قادری کرلیں نظارہ غوثِ اعظم کا

(قبالۂ بخشش، ص99)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د الله پاک محبوب

د حدیثِ پاک مشهور کتاب "بخاري شریف" کښې د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد دے: کله چې الله پاک د یو بنده سره محبت کوي نو حضرت جبریل عَلَیْهِ السَّلَام ته فرمائي چې الله پاک د فلانکي بنده سره محبت کوي ځکه ته هم د هغه سره محبت کوه. حضرت جبریل عَلَیْهِ السَّلَام د هغه بنده سره محبت کوي. بیا حضرت جبریل عَلَیْهِ السَّلَام په آسماني مخلوق کښې اعلان فرمائي چې الله پاک د فلانکي بنده سره محبت کوي ځکه ته هم د هغه سره محبت کوه نو آسمان والا هم د هغه سره محبت شروع کړي، بیا په زمکې والؤ کښې د هغه مقبولیت کیښودے شي . (بخاری، 2/382، حدیث: 3209)

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! د دې نه معلومه شوه چې د مومنانو صالحانو او اولیائے کاملین عام مقبولیت (یعنې د الله پاک د محبوب کیدو) دلیل دے لکه د حُضُور غوثِ اعظم،خواجه غریب نواز، داتا گنج بخش علي هجویري او نورو مشهورو اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم عام مقبولیت چې د دنیا نه د پردې فرمائیلو په سوونو کاله تیر شول خو د هغوئي محبت اوس هم د خلقو په زړونو کښې ژوندے دے. د دې نه دا هم معلومه شوه چې "د ولي یو علامت دا هم دے چې خلقت (یعنې مخلوق) هغه ته ولي اووائي" او د هغه په لور قدرتي طور په زړه کښې رغبت وي.

(تفسیر صراط الجنان، پ16، مریم، تحت الایة: 198، 6/159 بتغیر)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: په قدرتي طور باندې د انسانانو په خُله راځي ”رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه “ يا ”رَضِيَ اللهُ عَنْهُ “ او د خلقو زړونه ځپله د هغه په لور راښکلے کيږي، ”د زړونو قدرتي کشش د الله پاک د محبوبيت دليل“ دے. اوګورئ! د حضورِ غوثِ پاک، خواجهٔ اجميري په شان بزرګان مونږه نه دي ليدلي خو ټول د هغوئي سره د زړه نه محبت کوي. (مِراٰة المناجيح،3/389)

دا غيبي او قدرتي محبت دے. امامِ عشق و محبت، عاشقِ غوثِ اعظم، اعلٰى حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د غوثِ پاک په بارګاه کښې عرض کوي:

کنجیاں دل کی خدا نے تجھے دیں ایسی کر    کہ یہ سینہ ہو محبت کا خزینہ تیرا

(حدائقِ بخشش، ص31)

شرحِ کلامِ رضا: اعلٰى حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په بارګاهِ غوثيت کښې عرض کوي: يعني يا غوثِ پاکه! الله پاک تاسو ته د مخلوق د زړونو کُنجياني عطا کړې دي نو زما د سيني د پرانستو سره په دې کښې خپل محبت واچوئ چې دا ستاسو د محبت خزانه شي .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! زما د مُرشد حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره عوام خو عوام دي لوئے لوئے اوليائے کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم هم د عقيدت مندئ اظهار کړے دے ځکه چې هغوئي د وليانو سردار، د بغداد شهنشاه دے. شيخ عارف بالله ابو اسحاق ابراهيم بن محمود رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما خپل مرشد امام ابو عبد الله بطائحي په دې

فرمائیلو واوریدلو: زه د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مبارکه زمانه کښې د حضرت سیدي احمد رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره یو څو ورځې پاتې شوم، یوه ورځ شیخ احمد رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته اوفرمائیل: مونږ ته د شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څه مناقب یعنې خوبیانې اووائې، ما څه فضیلتونه بیان کړل، دغه وخت یو کَس راغے او هغه حضرت شیخ احمد رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه طرف ته د اشارې کولو سره ما ته اووئیل: د دوئي یعني زما د شیخ احمد رفاعي نه علاوه زمونږ د وړاندې د دوئي نه علاوه د چا فضیلت هم مه بیانوه، د دې اوریدو سره حضرت سید رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خفه شو او هغوئي ته ئې په جلال سره اوکتل، بیا حضرت سید احمد رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: د شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مناقب (یعني د هغوئي فضیلتونه او خوبیانې) څوک بیانولے شي؟ د شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مرتبې ته (په اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم کښې) څوک رسیدے شي؟ په ټولو ولیانو کښې د هغوئي مقام ډیر اوچت دے [2] شیخ سید احمد رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نُور فرمائي: د شریعت دریاب د هغوئي په ښي لاس کښې دے او د حقیقت دریاب د هغوئي په بَل لاس کښې دے، د کوم یو نه چې غواړي اوبه اوڅښي، "زمونږ په دې وخت کښې د شیخ عبد القادر هیڅ ثاني (یعنې د هغوئي برابرئ والا) نشته .

[2] ...دا د اولیائے کرامو د حصر سره ده چې په اولیائے کرامو کښې څوک د هغوئي نه اوچتې مرتبے ته رسیدے شي، د انبیائے کرامو، صحابۂ کرامو د هغوئي خو خپل خپل مقامات دي او هغه خو معاذ الله څوک چیلنج کولے هم نه شي او نه دې ته د یو سلیمُ الفطرت ذهن تللے شي.

حضرت امام ابو عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ ما حضرت شيخ احمد رفاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلو خوَرَيَانو او لوئے لوئے مريدانو ته په دې وصيت كولو واوريدو: چې يو ګس بغداد شريف ته د تللو په اراده باندې راغے. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: چې كله بغداد شريف ته اورسئ نو كه حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دنيا كښې تشريف فرما وي نو د هغوئي زيارت او كه پرده ئې فرمائيلې وي نو د هغوئي د مزار مبارك د زيارت كولو نه مخكښې هيڅ كار مه كوه بيا ئې اوفرمائيل: "د هغه د پاره حيرانتيا ده د چا چې د شيخ عبد القادر جيلاني ديدن نصيب نه شو".

(فتاوىٰ رضويه، 8/389تا390، ملخصاً)

عطا كى ہے بلندى حق نے اہل اللہ كے جھنڈوں كو مگر سب سے كيا اُونچا پھريرا[3] غوثِ اعظم كا

نہ كيونكر اَولياء اس آستانے كے بنيں منگتا كہ اِقليمِ وِلايت پر ہے قبضہ غوثِ اعظم كا

(قبالۂ بخشش، ص94، 99)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! د حضور غوثِ اعظم او نورو اوليائے كرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم په محبت باندې د استقامت موندلو او د دې حضراتو د فيضانِ كرم د خيرات اخستلو د پاره د عاشقانِ رسول د سنتو ډک تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن هر وخت اونيسئ، كه كيدے شي نو هره مياشت په پابندئ سره د يولسم شريف نياز هم وركوئ او د دې بركتونه حاصلوئ، د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه محبت په زړه كښې

[3] ... جنډا [بيرغ].

د زياتولو د پاره تاسو ته يو مدني سپرلے اورووم، د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ډير په مضبوطتيا سره اونيسئ .

## د بدي عقيدې نه توبه

د حيدر آباد (سندھ، کراچئ) يو اسلامي ورور د يو څو غلطو خلقو په صحبت کښې کښيناستو پاخيدو، د خراب صحبت په وجه د هغه ذهن هم خراب شو او هغه تر دريو کالو پورې خپل ذهن داسې خراب کړو چې نه خو هغه په نياز شريف پوهيدو او نه په ميلاد شريف، په کور کښې به ئې په دې څيزونو باندې اعتراضونه کول، د دې ذهني خرابئ نه مخکښې د هغه د دُرُودِ پاک لوستلو ډيره غټه جذبه وه خو څنګه چې ده د بے ادبو صحبت اختيار کړو د دې خراب صحبت په وجه د دُرُودِ پاک د لوستلو جذبه هم ختمه شوه. قسمت ئې بيرته ښه شو او خدائے څه داسې اوکړل چې د دُرُود شريف فضيلت ئې واوريدو نو هغه جذبه ئې بيا پيدا شوه نو د دُرُودِ پاک د لوستلو معمول ئې جوړ کړو. يوه شپه چې د دُرُود شريف په لوستلو کښې اوده شو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! په خوب کښې ئې شين شين ګنبد اوليدلو حالانکه ذهن ئې بدل شوے وو خو په خوب کښې ئې بے اختياره په ژبه باندې اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يا رَسُوْلَ الله جاري شول. چې سحر راپاڅيدو نو په زړه کښې ئې راغلي وو چې دا څه اوشول، په کوم څيز زه نه پوهيدم هغه زما سره اوشو ما په ژبه څه وئيل؟ بيا دے په سوچ کښې پريوتو چې آخر څه مسئله ده، ما له تحقيق پکار دے چې حق لاره کومه يوه ده؟ اتفاقي خبره وه چې د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د

سنتو زده کولو ښودلو مدني قافله د هغوئي د کور سره نزدې جُمات ته راغله نو دے په څه طريقه هغه مدني قافلے ته د چا په ترغيب لاړلو او د هغوئي سره مسافر شو. شك مند خو وو، د حق د جذبے لاندې دے په سفر باندې روان شو. د قافلے امير اسلامي وررور هغوئي ته د نيک اعمال رسالے تعارُف اوکړو او په دې باندې ئې د عمل کولو جذبه ورکړله. کله چې هغوئي هغه رساله په غور اولوستله نو ډير حيران شو ځکه چې نيک اعمال رساله خو د ژوند تيرولو په ډير زبردسته رهنما اُصولو باندې جوړه ده. د عاشقانِ غوثِ اعظم د صحبت او په نيک اعمال رسالے باندې د عمل کولو په برکت په هغه باندې د الله پاک فضل او کرم اوشو، هغه د مدني قافلے ټول اسلامي وروڼه راجمع کړل او اوئې وئيل: زما ذهن مخکښې خراب شوے وو، ما به مخکښې تاسو ته پته نشته چې څه څه وئيل نن تاسو ټول ګواهان شئ چې د نن نه د خپلې هُغه زړې عقيدې او سوچونو نه رښتينې توبه کووم او اوس د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول د لمَن نيولو نيت کووم. اسلامي وروڼو ډير د خوشحالئ اظهار اوکړو. دغه اسلامي وررور په بله ورځ د 30 روپو نکتي (يو قِسم له متهائي کومه چې د ملغلرو د دانو په شان جوړه وي، مونږ دې ته په ميمنئ ژبه کښې بونديان وايو هغه د زلوبو په شان رنګ کښې وي غالباً دلته هم دغه مراد دے) رااوغوښتله او د بغداد د سرکار غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نياز ورکولو سره ئې په خپل لاس باندې تقسيم کړله، هغه ته د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه برکتونه څه ميلاؤ شول چې د هغه د 35 کالو نه د ساه لنډې مرض وو، يوه شپه به ئې هم د تکليف نه بغير نه تيريدله، په ښئ جامه به ئې هم تکليف وو چې د هغې له وجې به ئې په صحيح طريقه خوراک هم نشو

کولے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مدني قافلے په برکت سره پرېږ په سفر کښې د ساه هيڅ تکليف رانغلے او بغير د څه تکليف نه به ئې خوراک هم کولو. او هغه وئيل: زما زړه ګواهي ورکوي چې د اهلسنت عقائد حق دي او زما ښه ګمان دے چې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول د الله پاک او د هغه د خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې مقبول دے .

عطائے حبیبِ خدا دینی ماحول
ہے فَیضانِ غوث و رضا دینی ماحول
بَفَیضانِ احمد رضا اِنْ شَاءَ الله
یہ پُھولے پھلے گا سدا دینی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص646)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په خوب کښې راغلو او د پريشانئ حل ئې ارشاد اوفرمائيلو

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حضرت علامه الحاج سيد احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته يو خط اوليکلو: زه په څه مسئله کښې نختے ووم نو د حضور غوثُ الاعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زيارت نصيب شو او هغوئي اوفرمائيل: که په څه مسئله کښې اونخلې نو په ملتان کښې زما د ځوي "کاظمي" (يعني سيد احمد سعيد کاظمي) په لور رجوع کوه چې هغه ضيغمِ اسلام (يعني د اسلام ازمرے) دے، بيا غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: چې هغه کوم کتاب ليکي زما خوښ دے. (مفتي صاحب د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د

خوښي د کتاب په باره کښې د پوښتنې کولو سره په خط کښې اوليکل) حضرت! هغه کوم يو کتاب دے د کوم تعريف چې حضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کړے دے؟ غزاليءِ زمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هغه وخت " تَسْكِيْنُ الْخَوَاطِرِ فِي مَسْئَلَةِ الْحَاظِرِ وَالنَّاظِرِ" ليکلو، هغوئي د هغه کتاب په شروع کښې ليکلي وو: زه خپل دا کتاب د سيدنا غوث الاعظم حضور سيد محي الدين شيخ عبد القادر جيلاني الحسني والحسني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په بارګاهِ عظمت کښې د وړاندې کولو شرف حاصلووم، د چا په روحاني امداد او مرسته چې ما ته د دې د مرتب کولو توفيق حاصل شو. (فيضانِ علامه کاظمی، ص:64) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د وخت غزالي د کتاب مدني سپرلے

زما په ځلمې توب کښې يو ځل يو ګس د الله پاک د خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حاضر ناظر نه کيدو په باره کښې خبرې اوکړې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د غوثِ پاک کرم زما سره وو ما هغه په خپلو غلطو خبرو د پوهيدو د پاره د زمانې د غزالي حضرت علامه احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا کتاب " تَسْكِيْنُ الْخَوَاطِرِ فِي مَسْئَلَةِ الْحَاظِرِ وَالنَّاظِرِ" هغه له ورکړو او اومې وئيل دا اولوله. هغه به هم زما په محله کښې اوسيدو د کتاب لوستلو نه پس چې کله زما د هغه سره ملاقات اوشو نو هغه دومره متاثره شو چې هغه د خپلې غلطې عقيدې نه توبه کړه او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې حاضر و ناظر اومنلو. د الله پاک دې د زمانے په غزالي باندې رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د زمانے د غزالي یو څو خوبیانې

د زمانے غزالي د عاجزه طبیعت مالک وو. هغوئي به ډیره عاجزي کوله. ما هغوئي تقریباً همیشه په ملاقات کښې وړومبے په سلام کولو لیدلي دي. د دومره لوئے شخصیت کیدو باوجود هغوئي به انتظار نه کولو چې یو بنده ما ته سلام اوکړي بلکه هغوئي به پخپله وړومبے سلام کولو. یو ګس ما ته اووئیل چې یو ځل زه د امتحان په طور د هغوئي په خدمت کښې حاضر شوم او یو ځائے بل ځائے پټیدم. ناڅاپه چې کله د زمانے غزالي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه زه اولیدم نو فوراً ئې د خپل عادت مبارک مطابق "السلام علیکم" اوفرمائیلو.

## د زمانے د غزالي علمي شان و شوکت

د زمانے غزالي حضرت علامه احمد سعید کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه د دعوتِ اسلامي د ټولو نه وړومبئ کلیزې اجتماع ککري ګراؤنډ ته تشریف راوړے وو او بیان ئې فرمائیلے وو بیا د دې نه شپږ کاله پس هغوئي وفات شول. ما هغوئي تر آخري عمر پورې د دعوتِ اسلامي سره په ډیر محبت کولو لیدلے دے. د هغوئي یو مُرید کوم چې حافظِ قرآن د رحیم یار خان اوسیدونکے وو وائي چې: زه د زمانے د غزالي په خدمت کښې حاضر ووم، په دغه ورځو کښې دعوتِ اسلامي نوے نوے وو نو چا د دعوتِ اسلامي د باني په باره کښې اعتراضونه شروع کړل. د زمانے غزالي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه د اوریدو نه پس د عاجزئ په طور باندې د ځان په باره کښې هم څه داسې

اوفرمائیل: واوره! الیاس قادري چې کوم کار کوي نۀ هغه ما کړے دے او نۀ تا هغه شان کړے دے. زما ښه ګمان دے چې د زمانے غزالي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه دومره لوئے عالم وو چې هغه وخت د هغوئي په ژوند مبارک کښې هم د هغوئي په شان عالِم کم از کم په ایشیا کښې نه وو. د هغوئي به دا وخت په دنیا کښې په زرګونو شاګردان خوارهٔ وي.اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د حضرت سره زما د خط او کتاب سلسله ډیره تیره شوې ده. د الله پاک دې د زمانے په غزالي باندې خپل رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خیر خواهئ مدني مشوره

بعضې بد نصیبه خلق د خپلې بد نصیبئ په وجه مَعَاذَ الله! د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم د اختیاراتو نه انکار کوي او معاذ الله ثم معاذ الله د ردو بدو وئیلو نه هم نه منع کیږي، بهر حال که د چا په ذهن کښې د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم په باره کښې خدائے دې نکړي څه وسوسے وي نو هغه لرې کول پکار دي ګنې په دې کښې د آخرت ډیر نقصان دے. د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه سپکاوے ډیر خطرناک دے "په بخاري شریف" کښې په حدیثِ قدسي کښې دي: الله پاک ارشاد فرمائي: څوک چې زما د یو ولي سره دښمني اوساتي زه د هغه سره د جنګ اعلان کووم.

(بخاری، 4/248، حدیث:6502)

اَللّٰهُ اَکْبَر! الله پاک چې چا له د جنګ چیلنج ورکړي نو د الله پاک سره څوک مقابله کولے شي .

حضرت علامه غلام رسول رضوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حدیثِ پاک د دې حصې: "چا چې زما د یو ولي سره دښمني اوکړه" لاندې فرمائي: یعني څوک چې د ولي سره دښمني ځکه کوي چې هغه زما ولي دے، زه د هغه سره جنګ کووم او هغه هلاك کووم او په هغه باندې داسې خلق مسلط کووم کوم چې هغه ته ضرر رسوي. د هغه ګس دا رسوائي په دنیا کښې ده د آخرت خرابي د دې نه علاوه ده. (تفهیم البخاری، 9/796)

حضرت علامه علي قاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ائمه کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم په حوالے سره بیان فرمائي: الله پاک د دوه قسمه ګنهګارانو سره د جنګ اعلان کړے دے: (1): سُود خور (2): د اولیائے کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم دښمن. دا دواړه ډیر غټ ګناهونه دي ځکه چې د الله پاک د بنده سره جنګ کول د بنده په بده خاتمه باندې دلالت کوي او د چا سره چې الله پاک د جنګ اعلان اوکړي هغه چرې هم نشي کامیابیدے.(مرقات، 41/5، تحت الحدیث:2266)

الله پاک دې زمونږ ګناهونه معاف کړي او مونږ دې د شیطاني وسوسو نه بچ کړي. تاسو ګواه اوسئ چې اوسه پورې دنیا ته څومره اولیائے کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم تشریف راوړے دے یا موجود دي یا چې څومره به تشریف راوړي زه د هغه ټولو سره محبت کووم .

ہم کو سارے اولیا سے پیار ہے    ان شاءَ اللہ اپنا بیڑا پار ہے

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دِين او د دنيا د بربادئ سبب

امام اهلسنت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په فتاویٰ رضویه شريف کښې فرمائي: د پيرانو پير، پير دستګير، حضور غوثُ الاعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته مَعَاذَ الله! رد بد وئيل زهرِ قاتل او د دين او دنيا د بربادئ سبب دے.

(فتاویٰ رضویه، 287/21)

بازِ اَشہب کی غلامی سے یہ آنکھیں پھرنی    دیکھ اڑ جائے گا ایمان کا طوطا تیرا

اَلاماں قہر ہے اے غوث وہ تیکھا تیرا    مَر کے بھی چین سے سوتا نہیں مارا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص28، 29)

کيدے شي چې چا له وسوسه راشي چې مونږ د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په باره کښې داسې ولې وايو نو الله پاک چې خپل بنده له کومه مرتبه ورکړې ده. لکه څنګه چې الله پاک په مخلوق کښې د ټولو نه غټه مرتبه خپل خوږ آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړې ده. زمونږ ژبې دې وَچې شي، قلم دې مات شي خو مونږ د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان خو څه د "شان" د "ش" نقطه هم نشو شروع کولے. مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خپل کتاب "ذوقِ نعت" کښې ليکي:

آسماں گر تیرے تلووں کا نظارہ کرتا روز اک چاند تصدق میں اتارا کرتا

(ذوقِ نعت، ص30)

يعنې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! كه آسمان ستاسو د ښپو مباركو تَلي يعنې كومه حصه چې په زمكه باندې لګي هغه ليدلے وے نو ستاسو په ښپو مباركو باندې به ئې هره ورځ يوه سپوږمئ صدقه كوله. چې د تَلي دا شان دے نو د چا چې تَلے دے د هغه مباركې هستئ به څه حالت وي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## فالج ټيک شو

سيّدي قطبِ مدينه ضياء الدين احمد مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل په ما باندې فالج سخته حمله اوكړه. زما نيم بدن مفلوج شو، بيماري دومره ډيره شوه چې ټولو خلقو دا ګڼل چې اوس به دے ژوندے پاتې نه شي. يوه شپه ما په ژړا ژړا د سرورِ كائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه كښې فرياد اوكړو، يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه، زما پير و مرشد، زما امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خادم جوړولو سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آستانے ته راليږلے يم، كه دا بيماري د څه خطا سزا ده نو د مرشد په وسيله ما معاف كړې. دغه شان مې د حضورِ غوثِ پاک او د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم استغاثه هم وړاندې كړه (يعنې فرياد اوكړو). سيدي قطبِ مدينه فرمائي: كله چې ما له خوب راغلے نو څه ګورم چې زما پير و مرشد سيدي اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دوو نوراني مخونو لرونكو بزرګانو سره تشريف راوړے

دے. اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو بزرګ طرف ته اشاره اوکړه او اوئې فرمائيل: ضِياءُ الدِّين! (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) اوګوره! دا حضور سيِّدُنا غوثُ الاعظم دے او بَل بزرګ طرف ته ئې د اشارے کولو سره اوفرمائيل: دا حضور خواجه غريب نواز دے. حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما د بدن په فالج زيلې حصه باندې خپل شِفا والا لاس راښکلو او اوئې فرمائيل: پاڅه! زه هم په خوب کښې اودريدم. بيا دې دريو واړو بزرګانو لمُونځ شروع کړو. بيا زما سترګې اوغړيدلې. د الله پاک په رحم باندې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زه صحت مند شوم. (سيدی قطب مدينه، ص12)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

شفا پاتے ہیں صدہا جاں بلب اَمراضِ مہلک سے
عجب دارُالشفا ہے آستانہ غوثِ اعظم کا

جمیلؔ قادری سو جاں سے ہو قربان مرشد پر
بنایا جس نے تجھ جیسے کو بندہ 4 غوثِ اعظم کا

(قبالۂ بخشش، ص94، 101)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په ميمنو کښې د غوثِ اعظم عقيدت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! عام طور "ميمن" خلق د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير احترام کوي او په ميمنو کښې د يولسم شريف ډير رجحان دے. دلته

---

[4] ... د بنده نه مُراد غلام دے ځکه د بنده يوه معنیٰ غلام او خادم هم ده.

زمونږه مشراني زنانه د کور نه په وَتلو باندې وائي: څه څويه! غوثِ پاک جو وسيلو، پيران پير جي مدد، غوثِ پاک جو وسيلو. اوس د ټيکنالوجي زمانه ده. قِسما قِسم مضامين ډېر په تيزۍ سره خورېږي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هدايت سلسله هم روانه ده. د فرعون د سر چقولو د پاره حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړلو. دغه شان نمرود د خدائي دعوىٰ اوکړه نو حضرت ابراهيم خليل الله عَلَيْهِ السَّلَام د هغه سر اوچقولو. الله پاک دې مونږه د شيطاني وسوسو نه بچ کړي او د خپلو اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم ادب کوونکي مو دې جوړ کړي.

## غريب ئې مالداره کړو

د حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مشر شهزاده حضرت سيِّد عبد الرزاق قادري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: کله چې زما والد صاحب مشهور شو نو هغوئي حج ادا کړو، د حج په سفر کښې به ما د هغوئي د سورلۍ واګې نيولې، کله چې مونږ د بغداد شريف په جنوب کښې يو ښار ته اورسيدو نو هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: دلته د ټولو نه غريب کور اولټوئ، مونږ په شاړه کښې د وَړۍ يوه خيمه اوليدله، په کومه کښې چې يو بوډا، بوډۍ او يوه جينۍ وه. حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغه بوډا نه اجازت واخستلو او د خپلو ملګرو سره په هغه شاړه کښې حصار شو، د هغه ښار لوئے لوئے بزرګان او مالداره خلق د هغوئي په خدمت کښې حاضر شول او خواست ئې اوکړو چې تاسو زمونږ خوا له يا د بَل چا ښه کور ته تشريف راوړئ، خو هغوئي قبول نه کړو. د هغه ښار حاکم د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د پاره ډېرې غواګانے، چيلۍ، خوراک، سره زر، سپين

زر، سامان او د سفر د پاره سورلئ رااولیږلي او خلق د هر لور نه د هغوئي په خدمت کښې حاضر شول، هغوئي خپلو ملګرو ته ارشاد اوفرمائیلو چې په دې ټول سامان کښې ما خپله حصه دې کور والؤ له ورکړله. دا ئي چې واوریدل نو هغوئي هم عرض اوکړو: مونږه هم خپله خپله حصه ډالئ کړه، دغه شان هغه ټول مال هغه بوډا، بوډئ او جینئ له ورکړے شو، شپه هغوئي هلته تیره کړله او سحر روان شول، (د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ځوي سید عبد الرزاق قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:) څو کاله پس زه په هغه ښار تیریدم، څه ګورم چې هغه بوډا د هغه ځائے په اوسیدونکو کښې د ټولو نه مالداره دے. هغه ما ته اووئیل چې دا هر څه د هغه شپې برکت دے کله چې غوثِ پاک زمونږ کره تشریف راوړے وو او مونږ ته ئي عطا کړي وو. (بهجة الاسرار، ص198)

سُبْحٰنَ الله! زما مرشد غریبانانو ته وړومبے عطا کړل. خو زمونږ توجه د مالدارانو په لور ډیره او د غریبانانو په لور کمه وي. افسوس----

کبھی تو غریبوں کے گھر کوئی پھیرا! ہماری بھی قسمت جگا غوثِ اعظم

مرے خواب میں آ بھی جا غوثِ اعظم پلا جامِ دیدار یا غوثِ اعظم

مرے خواب میں آ بھی جا غوثِ اعظم پلا جامِ دیدار یا غوثِ اعظم

(وسائلِ بخشش، ص552)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وړومبے لمُونځ ګزاره بیا نیاز ګزاره

اے عاشقانِ غوث اعظم! زمونږه خوږ پیر و مرشد ته چې کومه مرتبه میلاؤ شوه دا د الله پاک په عطا سره میلاؤ شوه، ولایت د الله پاک په عطا سره حاصلیږي، اولیائے کرام د فرضو او واجبو په سختئ سره پابند وي، تر دې چې زما پیر و مرشد غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هره ورځ زر رکعته نفل ادا کول په یوه شپه کښې ئې تر پینځلسو کالو پورې یو ځل قرآنِ کریم ختم کړو، دا حضرات زرګونه نفلونه کوي او افسوس! مونږه فرض لمُونځونه نه شو کولے، آیا د غوثِ پاک نه دا برکت اخستل دي چې د هغوئي نیاز خوړل دي، هغوئي خو لمُونځ اوکړو، تاسو د هغوئي مینه وال جوړ شئ او د هغوئي نقل هم کوئ. وړومبے لمُونځ ګزاره بیا نیاز ګزاره. یاد ساتئ! لمُونځ فرض دے او نیاز مستحب. د فرضو درجه د مستحبو نه لویه وي. که فرض ادا نه کړې نو ګنهګار او که په مستحب باندې عمل اونکړې نو ګناه نشته. څوک چې قصداً عمداً یو لمُونځ هم پریږدي نو د هغه نوم د دوزخ په هغه دروازه باندې لیکلے کیږي په کومې به چې د داخلیدو سره دوزخ ته ځي. اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چا چې مونږ له د غوثِ پاک د محبت ډک جامونه راکړي دي، فرمائي: څوک چې قصداً عمداً یو لمُونځ هم پریږدي نو هغه په دوزخ کښې د زرګونو کالو سوزیدو حقدار دے. (فتاویٰ رضویه، 9/158)

د يو لمُونځ دا وبال دے نو څوک چې يوه مياشت بلکه څو څو مياشتې او ډيرو کلونو پورې [لمُونځ] اونکړي نو لږ سوچ اوکړئ د هغه به څه انجام وي؟ نيت اوکړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! نياز کوو، بيا به ئې هم کوو خو لمُونځ به هم نه پريږدو .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "غوثُ الاعظم" د اتو حروفو په نسبت سره د غوثِ اعظم 8 کرامات

حضرت شيخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دهلوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: په اوليائے کرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم کښې څوک هم د کراماتو په لحاظ سره د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه برابر نشته، تر دې پورې چې بعضې بزرګانو اوفرمائيل: د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د کراماتو حال د "ملغلرو د لړئ" په شان دے چې کله اوشليږي نو په يوه پسې بَله ملغلره غورځيږي دغه شان د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کرامات د شميرلو نه بهر دي.(اشعة اللمعات، 4/610مفهوماً)

## (1): چرګه ژوندئ شوه (کرامت)

د حضور غوثِ پاک، شهنشاهِ بغداد، حضرت شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې يوه زنانه حاضره شوه او خپل ځوي ئې د دې وئيلو سره پريښودو چې

دے ستاسو سره ډیر محبت کوي، د ده تربیت اوکړئ. هغوئي هغه قبول کړو او په مُجاهده (یعني عبادت او ریاضت) باندې ئي اولګولو، یوه ورځ د هغه مور راغله نو اوئې لیدل چې د هغې ځوي د لوږې او پرله پسې د شپې د ویخ پاتې کیدو سره د عبادت کولو په وجه ډیر کمزورے شوے دے او د وربَشو ډوډئ خوري، کله چې د حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضره شوه، نو اوئې کتل چې د هغوئي مخې ته په یو لوښي کښې د چرګې هډوکي پراته دي، کوم چې حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوړلي وو، هغه زنانه عرض اوکړو: یَا غوثِ اعظم! تاسو ښخپله خو چرګان خورئ او زما بچے د وربشو ډوډئ. دا ئې چې واوریدل نو حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل مبارک لاس د چرګې په هغه هډوکو باندې کیښودو او اوئې فرمائیل: **قُوْمِیْ بِاِذْنِ اللهِ الَّذِیْ یُحْیِی الْعِظَامَ وَ هِیَ رَمِیْمٌ** یعني د الله پاک په حکم باندې ژوندئ شه کوم چې به وراسته شوي هډوکي ژوندي کوي. د دې فرمائیلو سره چرګه فوراً صحیح سلامته ژوندئ شوه او آوازونه ئې شروع کړل، حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: ستا بچے چې کله دې درجے ته را اورسي نو چې څه غواړي هغه به خوري .(بہجۃ الاسرار، ص128)

د الله رَبُّ العزّت دې په غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جس طرح مُردے جِلائے اِس طرح مُرشِد مرے
مُردہ دل کو بھی جِلا، یا غوثِ اعظم دستگیر

(وسائلِ بخشش، ص547)

اے عاشقانِ اولیاء! اے زما خوږه پیره او مرشده غوثِ پاکه! تاسو چې څنګه (د الله پاک په عطا کړے شوي طاقت سره) مړي راژوندي کړي دي هم دغه شان زما مَړ زړه هم را ژوندے کړئ .

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (2): په غنمو کښې برکت شو (کرامت)

شيخ ابو العباس احمد قريشي بغداد رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: يو ځل په بغداد شريف کښې قحط وو (يعني د خوراک څښاک کمے وو)، ما د خپلې لوږې او د زيات بال بچ ذِکر په بارګاهِ غوثيت کښې اوکړو نو حضرت شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ما له يوه وَيبَه (يوه مخصوص پيمانه) د غنمو ويستله او ما ته ئې اوفرمائيل چې دا په يوه بوجئ کښې واچوه او د هغې خُله بنده ساته او د يو طرف نه ئې برسيره کړه او د [دانو] راويستو سره دَل کوه او خوره ئې. خو د هغې خُله هيڅ کله هم مهٔ برسيره کوه. شيخ ابو العباس رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي چې مونږه د هغې بوجئ نه تر 5 کالو پورې غنم راويستل او خوړل. يوه ورځ زما ښځې د هغې بوجئ خُله برسيره کړه نو هغه غنم په 7 ورځو کښې ختم شول، ما د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په خدمت کښې دا معامله عرض کړه نو هغوئې ارشاد اوفرمائيلو: که تا هغه پريښودے وے او د هغې خُله دې نه وے برسيره کړے نو تر خپل مرګه پورې به دې د هغې نه خوراک کولے. (بهجة الاسرار، ص130)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | | |
|---|---|---|
| وہ اور ہیں جن کو کہئے محتاج | | ہم تو ہیں گدائے غوث اعظم |
| جو دَم میں غنی کرے گدا کو | | وہ کیا ہے عطائے غوث اعظم |

(ذوق نعت، ص 178)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کرامت حق دے

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! د اهلسنت متفقه عقیده ده چې د صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضوَان او د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهم کراماتونه حق دي او په هره زمانه کښې د الله والؤ کرامات ظاهر شوي دي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! تر قیامته پورې به چرې هم دا سلسله نه ختمیږي. حضرت شیخ عبد الحق محدث دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله والؤ نه د کراماتو ظاهریدل د قرآن او حدیث نه ثابت دي.(اشعة اللمعات.595/4)

په دریمه سیپاره: سورهٔ آلِ عمران، آیت نمبر: 37 کښې د الله پاک د خوږ نبي حضرت عیسیٰ روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د مور بي بي حضرت مریم بي بي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د کرامت څه داسې بیان دے:

| | |
|---|---|
| كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ۭ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاۗءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾ (پ3، آلِ عمران: 37) | **مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان**: کله چې به زکریا د هغې خوا له د هغې د لمُونځ کولو ځائے ته تللو نو د هغې خوا ته به ئې میوې موندلې. (زکریا) پوښتنه اوکړه: اے مریم! دا ستا خوا له د کوم ځائے نه راځي؟ هغې جواب ورکړو: دا د الله پاک د طرف نه دي، بے شکه الله چې چا ته غواړي بے شماره رزق عطا کړي.[5] |

[5] ... د حضرتِ مریم رضی اللہ عنہا په خوا کښې به د ګرمۍ میوې په یخنۍ کښې او د یخنۍ میوې په ګرمۍ کښې موجودې وې. د اصحابِ کهفو د درې سوه نهه (309) کالو پورې بغیر د خوراک څښاک اوده کیدل هم د (کرامت دلیل) دے- (تحفة المرید، ص363)

د حدیث نه د کراماتو ثبوت: د احادیثو په کتابونو کښې په کراماتو باندې بے شمیره روایتونه موجود دي، بعضې علمائے کرامو او مُحَدِّیثینو په دې موضوع باندې مستقل کتابونه لیکلي دي- زمونږه د خوږ نبئ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ صحابي حضرتِ عبدُ الله رضی اللّٰهُ عنه علمِ غیب ته اوګورئ چې د خپل وفات، د وفات د نوعیت، د حُسنِ خاتمې وغیره خبر ئې د مخکښې نه ورکړو- حضرت جابر رضی اللّٰهُ عنه فرمائي: کله چې غَزْوَۂ اُحُد اوشو نو زما والد زه د شپې رااوغوښتلم او اوئې فرمائیل: زه د خپل ځان په باره کښې خیال کووم چې د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په صحابؤ کښې به ورومبے

## (3): د غوثِ اعظم برکت (کرامت)

حضرت شیخ اسماعیل بن علي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: چې حضرت شیخ علي بن هیتي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به کله بیمار شو نو کله نا کله به ئې زما خوا له تشریف راوړلو او ډیرې ورځې به ئې تیرولې. یو ځل هغوئي هم دلته بیمار شول نو د هغوئي خوا له د پیرانو پیر، حضرت شیخ سید عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د بغداد شریف نه د تپوس د پاره تشریف راوړلو، داسې زما خوا ته دوه اولیائے کرام رَحِمَهُمُاللهُعَلَيْهِم راغلل، زما دوه د کجورو وَنې وې کومې چې د څلورو کالو نه وَچې وې، هغې به میوه نه کوله. مونږ د هغه [وَنو] د وهلو اراده اوکړه نو حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په هغه دوو کښې د یوې کجورې د لاندې اودس اوکړلو او د بَلې د لاندې ئې دوه رکعته نفل ادا کړل. بیا په لږ وخت کښې هغه دواړه وَنې شنې شوې او هغې پاڼې رااوتوکولې او هم په هغه هفته کښې ئې میوه اوکړه حالانکه هغه د کجورو د میوې موسم نه وو. ما د خپلې زمکې نه یو څو کجورې رااوخستلې او د هغوئي په خدمت کښې مې وړاندې کړې نو هغوئي د هغې نه اوخوړلې او ما ته ئې اوفرمائیل: الله پاک دې ستا په زمکه، ستا

---

شهید زه یم- ما ته د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس تهٔ د ټولو نه ګران ئې. په ما باندې قرض دے تهٔ ئې ادا کړه او د خپلو خویندو د پاره د خیر وصیت قبول کړه. حضرت جابر رضی اللهُ عنه فرمائي: مونږ اولیدل چې سحر د ټولو نه مخکښې ورومبے شهید هم هغوئي وو. (بخاری،1/454، حدیث:1351مختصراً)

په درهم، ستا په صاع (مخصوص پیمانه) او ستا (د خاروو) په پئیو کښې بَرَکت واچوي.“

حضرت شیخ اسماعیل بن علي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه فرمائي: (د حضور غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه په برکت سره) زما په زمکه کښې دغه کال د دوو نه څلور چنده زیات فصل پیدا کیدلو، اوس زما دا حال دے چې کله زه یو درهم لګووم نو د هغې نه زما سره د دوو نه درې چنده زیات مال راځي او چې کله د غنمو 100 بوجۍ په یو کور کښې کیږدم او بیا د هغې نه 50 بوجۍ اولګووم او باقي پاتو ته اوګورم نو 100 بوجۍ موجودې وي. زما خاروي دومره بچي راوړي چې د هغې شمیر زما نه هیره شي. (بهجة الاسرار، ص91)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږ بے حسابه بخښنه وي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

په وسائلِ بخشش کښې دي:

بَہار آئے میرے بھی اُجڑے چَمَن میں
چلا کوئی ایسی ہَوا غَوثِ اَعظم
رہے شاد آباد میرا گھرانا
کَرم از پئے مُصطَفٰے غَوثِ اَعظم

(وسائلِ بخشش، ص553)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (4): غوثِ اعظم د وخت بادشاه دے (کرامت)

زما د مرشد، شهنشاهِ بغداد، د حضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په مبارکه زمانه کښې يو بزرګ سيدي عبدُ الرحمان طَفسُونَجي (رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه) يوه ورځ په منبر باندې اوفرمائيل:

”زه په اولياؤ کښې داسې يم لکه په مرغو کښې ډينګ (د ټولو نه د اوچتې غړئ والا مرغئ)“

هلته د حضورِ غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه يو مُريد حضرت سيدي اَحمد رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هم تشريف فرما وو په هغه باندې بد اولګيدل چې په حضورِ غوثِ پاک باندې ئې خپل ځان له فضيلت ورکړو. د ګُدړې (يعنې د فقيرانو هغه چغه په کومه کښې چې ډير پيوندونه لګيدلي وي) غورځولو سره اودريدو. حضرت سيدي عبدُ الرحمان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هغه ته د سر نه تر ښپو بيا د ښپو نه سر بيا د سر نه تر ښپو پورې اوکتل. غرض څو کَرَته ئې دغه شان اوکتل او خاموش شو خلقو د حضرت عبد الرحمان طَفسُونَجي رَحۡمَةُ اللهِعَلَيۡه نه د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: ما د هغه بدن ته اوکتل چې واړه وېښته کوم چې د انسان په بدن باندې وي د رحمتِ الٰهی نه خالي نه دي بيا ئې هغوئي ته اوفرمائيل: چغه واغوندئ. د غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه مُريد ارشاد اوفرمائيلو: فقير چې کومې جامې اوغورځوي بيا ئې نه اغوندي. د هغه کور د دولسو ورځو په فاصله باندې وو خپلې ښځې محترمې ته ئې آواز اوکړو: فاطمه! زما جامې راکړه. هغې هم د هغه ځائے نه لاس را اوغزول او جامې ئې ورکړلې او هغوئي د لاس ورغزولو سره واغوستلې. حضرت سيدي عبدُ الرحمان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ترينه پوښتنه اوکړه: د چا مُريد ئې؟ اوئې فرمائيل: د سرکارِ غوثِ اعظم غلام يم. حضرت عبدُ الرحمان

طفسُونجي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خپل دوه مريدان بغداد شريف ته اوليږل چې لاړ شئ او غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته خواست اوكړئ! د دولسو كالو نه په قُربِ الٰهى كښې حاضريږم تاسو مې نه په راتللو اوليدلئ او نه په تللو. دا دواړه مريدان د دې ځائے نه روان شول. هلته غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خپلو دوو مريدانو ته ارشاد اوفرمائيلو: طفسُونج ته لاړ شئ! په لاره كښې به درته د شيخ عبدُ الرحمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دوه سړي ميلاؤ شي هغه دواړه واپس بوځئ او شيخ عبدُ الرحمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه له جواب وركړئ چې څوک په انكړ كښې دي هغه دالان والا څنګه ليدلے شي او څوک چې په دالان كښې دي نو هغه د هغې نه دننه والا چرته ليدلے شي او څوک چې د هغې نه هم دننه په خاص ځائے كښې وي. زه په هغه خاص ځائے كښې يم او د هغې ننبه دا ده چې په فلانكۍ شپه دولس زرو اولياؤ ته خِلعَت عطا شوے وو. ياد ساتئ! چې تا ته كوم خلعت ميلاؤ شوے وو هغه شين وو او په هغې باندې د سرو زرو "**يَعْبَوُ قَبَسٍ يَّتِناج**" ليكلے شوي وو. دا ئې چې واوريدل نو شيخ عبدُ الرحمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سر ښكته كړو او اوئې فرمائيل: **صَدَقَ الشَّيْخُ عَبْدُ الْقَادِرِ وَهُوَ سُلْطَانُ الْوَقْت** يعني شيخ عبد القادر (رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه) رښتيا اوفرمائيل او هغه د وخت بادشاه دے.(بهجة الاسرار، ص61، 60)

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! الله پاک خپلو نيكانو بندګانو اوليائے كرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم له ډير اوچت شان او عظمت وركړے دے، دوئي د الله پاک په عطا سره ډير لوئے طاقت لري، په قرآنِ كريم كښې د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د يو اُمتي، حضرت آصف بن برخيا رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په سوونو كلوميټره لرې، د ملكهٔ بلقيس "ډير غټ تخت" د

سترګو په رَپ کښې د راوړلو د کرامت بیان دے. په 19 سیپاره، سورة النمل، آیت نمبر: 40 کښې دي:

| | |
|---|---|
| قَالَ الَّذِیْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِیْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ یَّرْتَدَّ اِلَیْكَ طَرْفُكَؕ فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّیْ ﵓ (پ19، النمل:40) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: هغه عرض اوکړو د چا سره چې د کتاب علم وو چې زه به هغه ستاسو په بارګاه کښې ستاسو د سترګو د رَپ نه مخکښې راوړم بیا چې کله سلیمان هغه تخت په خپل خوا کښې اولیدلو نو اوئې فرمائیل: دا زما د رب په فضل سره دي. |

چې د حضرت سلیمان عَلَیْہِ السَّلَام د یو اُمت د یو "وَلِـیُّ الله" دا شان دے نو د حضرت سلیمان عَلَیْہِ السَّلَام د آقا، د ټولو نبیانو سردار، د مدینے تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمت د ډیر لوئے ولي بلکه د اولیاؤ سردار، حضورِ غوثِ پاک، شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ شان او عظمت به څه وي .

## (5): مِرګي ئې اوتښتول (کرامت)

په بهجة الاسرار کښې دي: د حُضُورِ غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په زمانه کښې په یو کَس "مِرګي" راتلل، هغوئې اوفرمائیل: د ده په غوږ کښې اووائې: "د غوثِ اعظم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ حکم دے چې د بغداد نه بهر شه." نو هم هغه وخت هغه ښه شو او تر اوسه پورې په بغداد شریف کښې مِرګي نه راځي .(بهجة الاسرار، ص140)

| اونچے اونچوں کے سروں سے قدم اعلیٰ تیرا | | واہ کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا |
|---|---|---|

(حدائقِ بخشش، ص19)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (6): د روپو د تهیلو نه وینه راواوتله (کرامت)

حضرت ابو العباس خضر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیانوي چې یوه شپه مونږه په بغداد شریف کښې د حضور غوثِ اعظم دستګیر شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مدرسه کښې وو، یو خلیفه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او د سلام نه پس ئې د نصیحتونو غوښتلو سره د روپو 10 تهیلۍ وړاندې کړې، دغه تهیلۍ د هغه خادِم اوچتې کړې وې، هغوئي اوفرمائیل: ما ته د دې تهیلو ضرورت نشته، خو خلیفه د دې د واپس اخستلو نه انکار اوکړو او د قبلولو د پاره ئې بیا بیا وئیل، هغوئي یوه تهیلۍ په خپل ښي لاس کښې راواخستله او بَله ئې په ګڅ لاس کښې او دواړه ئې نچوړ کړې نو د هغې نه وینې رواني شوې، بیا هغوئي هغه خلیفه ته اوفرمائیل: "آیا تۀ د الله پاک نه حیا نه کوې چې د خلقو د وینو اخستو سره زما خوا له راغلے ئې؟ دا ئې چې واوریدل نو هغه بے هوشه شو-" (بهجة الاسرار، ص 120)

| کرم غوثِ اعظم کرم غوثِ اعظم | کرم چاہیے تیرا تیرے خدا کا |
|---|---|

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** الله والا د دنیاوي مال او دولت خواهش نه لري، دنیاوي مال او دولت خو لکه چې د هغوئي د لاس خِیرے وي هغوئي چې د خاورو ډیري ته حکم اوفرمائي نو هغه د سرو زرو شي بلکه حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ

اللّٰہِ عَلَیْه خو د صبر او قناعت ترغيب ورکوي او ارشاد فرمائي: ستا په منډو تَرړو تقسيم شوے رزق به ډير نه ميلاويږي او ستا د قناعت په وجه به کم نه ميلاويږي څکه [د الله په رضا] راضي اوسه. (مراٰة المناجيح، 13/7. مرقات، 25/9، تحت الحديث: 5171)

مال و دولت کی طلب ہم کو نہیں ہے مُرشد ہم فقط تیرے طلبگار ہیں غوثِ اعظم

(وسائل بخشش، ص560)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

حضرت علّامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي چې د اولياؤ کرامت حق دے، د دې نه مُنکر (يعني انکار کوونکے) ګمراه دے. (بهارِ شريعت، 269/1، حصه: 1)

د کرامت ډير قِسمونه دي مثلاً اوکړېده لاره په لږ وخت کښې وهل، په اوبو باندې ګرځيدل، په هوا کښې اَلوتل، د زړه په خبره باندې پوهيدل او لرې څيزونه ليدل وغيره وغيره .

## (7): د 100 عالمَانو پوښتنې (کرامت)

حضرت مُفرَّج بن نَبهان شيَباني رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي چې کله حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه مشهور شو نو د بغداد د ټولو نه ذهين 100 علمائے کرام په دې خبره باندې متفق شول چې هر يو دې د مختلفو علومو او فنونو په باره کښې د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه نه بيل بيل سوالونه اوکړي د پاره د دې چې د دې

سوالونو په ذريعه حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لا جوابه کړي. د دې سوچ سره ټول د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شول، زه په بارګاهِ غوثيت کښې حاضرووم، کله چې هغه عالِمَان راغلل او کښيناستل نو پيرانِ پير، روښانه ضمير، غوثِ اعظم دستګير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل سر مبارک ښکته کړو، هغه وخت د هغوئي د سينې مبارکې نه داسې نُور ووتلو، کوم چې هر هغه کَس اوليدلو کوم ته چې الله پاک ښودل غوښتل، هغه نُور چې د تيريدو سره کله د هر عالِم سينې ته اورسيدو نو ټول حيران شول او اوويريدل، بيا سر تور سر د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د منبر شريف خوا ته حاضر شول. هغوئي نمبر په نمبر هر يو خپلې سينې ته راجُخت کړو او اوئې فرمائيل: ستا سوال دا وو او د هغې جواب دا دے، داسې ئې يو يو ته ټولې مسئلے او د هغې جوابونه ارشاد اوفرمائيل. چې کله دا محفل ختم شو نو زه د هغه عالِمَانو خوا له لاړم او د هغوئي نه مې پوښتنه اوکړه چې دا څه معامله ده؟ نو هغوئي د (حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ازمائيلو نقصان بيان کړو او اوئې وئيل) چې کله مونږه هلته راغلو او کښيناستو نو يو دَم رانه هر څه داسې هير شول لکه چې مونږ له هډو څه راځي نه. خو کله چې مونږه حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلې مبارکې سينې ته راجُخت کړو نو مونږ هر يو له ''عِلم'' بيرته راغے او د دې نه زياته د حيرانتيا خبره دا ده چې حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زمونږ د سوالونو هغه جوابونه ارشاد اوفرمائيل کوم چې زمونږ په عِلم کښې نه وو. (قلائدُ الجواهر، ص33. بهجة الاسرار، ص96)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| |
|---|
| فقیہوں کے دلوں سے دھو دیا ان کے سوالوں کو |
| دِلوں پر ہے بنی آدم کے قبضہ غوثِ اعظم کا |

(قبالۂ بخشش، ص54)

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم!** د زړه په خبره پوهیدونکي ته "روښانه ضمیر" وئیلے شي او زمونږه خوږ خوږ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به د الله پاک په عطا سره د زړه په خبرو پوهیدو، "د الله پاک په عطا سره" چې کله اووئیلے شول نو اوس هیڅ شیطاني وسوسه راتلل نه ده پکار ځکه چې الله پاک خپلو بندګانو ته د پټو خبرو، د پټو کارونو په خبر ورکولو باندې قادر دے او هغه چې چا له اوغواړي هغه له دا نعمت ورکړي، زمونږه غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خو د الله پاک په مقبول ترینو اولیائے کرامو کښې دے .

آپ ہیں پِیروں کے پِیر اور آپ ہیں روشن ضمیر
آپ شاہِ اَتقیا یا غوثِ اعظم دستگیر

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (8): پیریانو په راتللو کښې ناوخته کړو (کرامات)

د شیخ ابو زکریا یحیٰی بن ابي نصر صحراوي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه والد فرمائي: ما د یو عمل په ذریعه باندې پیریان رااوغوښتل نو هغوئي څه ډیر ناوخته کړو بیا هغوئي زما خوا له راغلل او اوئې وئیل: چې کله شیخ سید عبد القادر جیلاني، قطبِ رباني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه


بیان فرمائي نو هغه وخت زمونږ د رابللو کوشش مه کوه. ما اووئیل هغه ولي؟ هغوئي جواب راکړو: مونږ د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه مجلس ته حاضریږو. ما اووئیل: تاسو هم د هغوئي مجلس ته ځئ. هغوئي اووئیل: آو! مونږ په نارینؤ کښې په ګڼ شمیر کښې یو، زمونږه ډیرې ډَلې دي کومو چې اسلام قبول کړے دے او هغوئي ټولو د حُضور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه په لاس باندې توبه کړې ده . (بهجة الاسرار، ص180)

تھر تھراتے ہیں سبھی جنات تیرے نام سے

ہے ترا وہ دبدبہ یا غوثِ اعظم دست گیر

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د راتلونکې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پرانې سبزي منډي کراچي
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net